## د يو دعوتگر مړينه

**[كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ]**

**ژباړه: *«په پای کې هر څوک د مرګ خوند څکونکی دی او تاسې ټول د قیامت په ورځ د خپلو پوره اجرونو تر لاسه کوونکي یاست، په اصل کې بریالی هغه څوک دی چې هلته د دوزخ له اوره وژغورل شي او جنت ته داخل شي. پاتې شوه دا دنیا، دا خو یوازې او یوازې یو غولوونکی شی دی.»* [عمران: ۱۸۵]**

حزب التحرير ـ ولايه لبنان د خپل يو دعوتگر پر مړينه ډېر خواشينی دی. حاجي ماجد زيد (ابو رامي) د تايرې اوسېدونکی، د ۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادی الاخر په ۱۲مه چې د ۲۰۲۱م کال، د جنوري له ۲۵مې سره سمون خوري، د يوې لا علاجه ناروغۍ له امله خپل روح حق ته وسپاره.

په داسې حال کې چې موږ خپل ځان، د هغه له کورنۍ او دوستانو سره په غمرازۍ کې شريک ګڼو، موږ د رحيم او مهربان الله سبحانه و تعالی دربار ته لاسونه لپه کوو، چې هغه وبښي او رحم پرې وکړي. لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی شاهد دی، چې په عموم کې هغه يو دعوتگر و او په ځانګړې توګه په تايرې ښار کې يې د مسلمانانو د يووالي لپاره ډېر زيار ګاله.

موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې ژر تر ژره موږ ته هغه دولت راپه برخه کړي، چې حاجي ابو رامي ورته کار کاوه. د صداقت او رښتينولۍ دولت، د نبوت پر منهج دويم راشده خلافت، چې مسلمانان تر يو بيرغ «لا اله الاالله» لاندې راټول کړي.»

**[وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ]**

**ژباړه:** *«... او [ای رسول الله صلی الله علیه وسلم!] صبر کوونکو ته زیری ورکړه؛ هغه کسان چې کله ورته کوم مصیبت ورسېږي، نو وايي: «موږ د الله سبحانه و تعالی یو او هغه سبحانه و تعالی ته ورګرځېدونکي یو.» دا هم هغه کسان دي چې د دوی د رب له لوري پرې ښښنه او رحمت دی او همدا کسان د سمې لارې موندونکي دي.»* [بقرة: ۱۵۵-۱۵۷]

د حزب التحرير- ولایه لبنان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۲مه

۲۰۲۱م کال، د جنوري ۲۵مه

د صدور گڼه: ٠٦/ ۱۴۴۲